# د افغانستان اسلامي امارت
# د ملي پراختيا شرکت



۱۴۴۴/۱۴۰۲

www.ndc.gov.af



# د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس پیغام!

ملي پراختیا شرکت په ۱۴۴۱ - ۱۴۴۴ کلونو کې د هېواد د تل پاتې پرمختیایي ودې لپاره د کرنې، کور جوړولو، انرژۍ، تولید او ودانیزو سکتورونو کې د ملي لومړیتوبونو او د زېربناوو د پیاوړتیا او ښه کولو برخه کې ډېرې لاسته راوړنې لري.

د هغو تصدیو په جوړښت کې، چې له ملي پراختیا شرکت سره مدغم شوې دي او د هغو د کاري اړتیاوو په پام کې نیولو سره د روښانه پالیسیو او اصلاحي برنامو جوړول، د هېواد اړتیاوې او د نړۍ له نویو او عصري تجربو څخه په ګټې اخیستې له موږ سره د سترو او ملي پروژو د تطبیق په برخه کې مرسته کړې ده.

په ملي پراختیا شرکت کې د کار بهیر په هېواد کې د نافذه قوانینو، مقرراتو او اړونده اساسنامې سره سم؛ د مدیریت او رهبرۍ د معاصرو مېتودونو او د اغېزمنتوب، مسؤلیت پېژندنې او حساب ورکولو اصل په پام کې نیولو سره پر مخ وړل کېږي.

د ملي پراختیا شرکت رهبري او کارکوونکي ټول د یو سوکاله او له بې وزلۍ څخه په پاک افغانستان باور لري او دا یې د ملي پراختیا شرکت لرلید ټاکلی دی. په لاس کې له شته سرچینو او منابعو څخه په اغېزمنه اقتصادي بڼه ګټه اخیستل، سرعت، کیفیت او دوامداره کاري زمینه؛ د پرمختګ لپاره مبارزه کول دي. موږ باور لرو، چې له خصوصي سکتور سره په نږدې همکارۍ کولی شو خپلې اوږد مهاله هیلې او ارمانونه پوره، هېواد د سوکالۍ او هوساینې لوړو پوړیو پر لور سوق او په نړۍ کې خپل موقف او ځای ټینګ کړو.

ملي پراختیا شرکت په هېواد کې د جګړو پای او د افغانستان اسلامي امارت بریا د هېواد زېربناوو د آبادۍ او بیا رغونې لپاره یو غوره فرصت ګڼي او د اقتصادي ستونزو سره سره یې په جدیت، رېښتینولۍ او پوره ژمنتیا د سترو او ملي پروژو د تطبیق په برخه کې کوټلي ګامونه اخیستي، تر څو موږ وتوانېږو په افغانستان کې پرمختګ په بالقوه او بالفعل پتانسیل بدل کړو.

په پای کې د افغانستان غیور ملت او د اسلامي امارت مشرتابه ته ډاډ ورکوم، چې د ملي پراختیا شرکت په چوکاټ کې د دې خاورې رېښتینې بچیان به د هېواد د تولیدي برخو او زېربناوو په پرمختګ کې تر پخوا څو برابره ډېرې هڅې کوي.

د یو سوکاله او له بې وزلۍ څخه د پاک افغانستان په هیله!

عبدالرحمن عطاش
د ملي پراختیا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس

شرکت انکشاف ملی | د ملی پراختیا شرکت

National Development Corporation

# ملي پراختيا شرکت
# د آبادۍ او بيارغونې مخکښ!

# نوملړ


| عنوانونه | صفحه |
|---|---|
| **ملي پراختيا شرکت** | ۱ |
| **لرليد** | ۲ |
| **ماموريت** | ۲ |
| **اهداف** | ۲ |
| **کاري ساحې** | ۳ |
| **د خدمتونو د وړاندې کولو اوسنی بالقوه ظرفيت** | ۴ |
| **په ټولنه کې د باور او هيلې رامنځ ته کول** | ۴ |
| **مالي معلومات** | ۵ |
| **لاسته راوړنې** | ۶ |
| د بندونو او کانالونو سکتور | ۶ |
| ودانيز سکتور | ۷ |
| تاريخي(لرغوني) آبدات | ۹ |
| استوګنيز ښارګوټي | ۹ |
| د توليد سکتور | ۱۰ |
| د کانونو سکتور | ۱۱ |
| د کرنې سکتور | ۱۲ |
| د املاکو برخه | ۱۳ |
| پرمختيايي برنامې | ۱۳ |
| تشکيلاتي جوړښت | ۱۴ |
| پېرودونکي | ۱۵ |





## د ملي پراختیا شرکت رامنځ ته کول(تأسیس)

ملـي پراختیـا شـرکت د پراختیایـي پـروژو او برنامـو د کارونـو د لا ښـې همغـږۍ او تطبیـق، سـکتورونو د تطبیقـي ظرفیـت لـوړول، د هېـواد د اقتصـادي ودې چټکتیـا او همدارنګـه د دولتـي تصدیـو د چـارو ښـې همغـږۍ لپـاره رامنـځ تـه شـو، ترڅـو پـه لاس کـې لـه شـته سـرچینو او منابعـو څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې سـره د پراختیـا او دوامـداره ودې د پروسـې ګړنـدي کـول، پـه لـږ لګښـت او معیـاري ډول د پـروژو تطبیقـول، کاري فرصتونـو ډېـرول او د آبـادۍ برنامـو پـه پلـي کولـو سـره د فقـر او فسـاد کچـې راکمـول.

پـه همـدې لحـاظ ملـي پراختیـا شـرکت د ۱۳۹۸ لمریـز کال پـه وروسـتیو کـې د کـور جوړولـو، بنایـي، افغانـي، هلمنـد، فلـزي عناصـر، باربـري مرکـز، جبل السـراج د سـمنټو فابریکـې او غـوري سـمنټو فابریکـو پـه مدغـم کېدلـو سـره تأسـیس او د هېـواد پـه ګـوټ ګـوټ کـې یـې کوچنـۍ او سـترې پـروژې پیـل کړې.

ملـي پراختیـا شـرکت د هېـواد نافـذه قوانینـو او د دې شـرکت د اساسـنامې پـه رڼـا کـې تـر ډېـره د ودانیـزو، تولیـد، اوبـو مدیریـت او کانونـو برخـو کـې کار کـوي، چـې لـه نېکمرغه ښـې لاسـته راوړنـې هـم لـري.

## لرليد(Vision)

له بې وزلۍ څخه پاک افغانستان، په اقتصادي وده کې ونډه اخيستل، د پرمختيايي پروژو د چارو ګړندي کول او په لاس کې له شته سرچينو څخه په ګټې اخيستنې سره د لاربنودي برنامو تطبيق کول.

## ماموريت (Mission)

ملي پراختيا شرکت دولت او خلکو ته د ګټې رسونې او د ملي ګټو په پام کې نيولو سره د برنامو د سمون، تطبيق او د مدغم شويو تصديو د بيارغونې او فعالولو په موخه تأسيس شو، چې له اړوندو او ښکېلو اړخونو سره په همغږۍ د هېواد د پرمختيايي ودې لپاره له نويو او مډرنو وسايلو او ميتودونو څخه په ګټې اخيستنې؛ چارو ته سمون او چټکتيا ورکوي.

## اهداف

ملي پراختيا شرکت د لاندې موخو د لاسته راوړلو په لټه کې دی:

- د تقنيني اسنادو په رڼا کې د چارو سرعت، ملاتړ او پرمختګ.
- د ملي او نړيوالو منل شويو معيارونو په پام کې نيولو سره تخصصي ظرفيتونو ته د ارتقاء د زمينې برابرول، د ژمنو پوره کول او د نوښت رامنځ ته کول.
- ملي پراختيا، اقتصادي ودې، ټولنيز پرمختګ او د کاري زمينې رامنځ ته کولو کې د شرکت ګډون کول.
- د خصوصي سکتور د پانګونې د جذب زمينې برابرول.
- د ګټې لاسته راوړل او د شرکت د مالي بنسټ پياوړتيا.

# کاري ساحې

## ودانيز

- د ودانيو جوړول
- د استوګنيزو ښارګوټو جوړول
- د اوبو د بندونو او کانالونو جوړول
- د تاريخي(لرغونو) آبداتو بيا رغونه

## توليدات

- د سمنټو توليد او وړاندې کول(عرضه)
- د فلزي عناصرو توليد
- د مخکې جوړو ودانيزو توکو توليد

## کانونه

- د شمال ډبرو سکارو د رياست غوره مديريت
- د بلخاب ډبرو سکارو د کانونو د استخراج

## کرنه

- د ننګرهار وادي کرنيز کانال غوره مديريت
- د ترقي بڼ جوړول
- د شمال د کرنيز- صنعتي کمپلکس طرح او ډيزاين

## ټرانسپورټي خدمتونه

- د دې شرکت د مرکز باربري رياست د ۲۰۰ عرادي موټرو په درلودلو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کوي.



## د خدمتونو د وړاندې کولو اوسنی او بالقوه ظرفیت

ملي پراختیا شرکت په خپلو کاري برخو کې د بالقوه او بالفعل ظرفیت لرونکی دی، چې همدا د دې شرکت د پروژو د سرعت، کیفیت او ارزانه بشپړتیا لامل شوی دی.

د ملي پراختیا شرکت بالقوه ظرفیت

۲۴۰۰۰ کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینې برابرول

د ۴۰۰ عرادو وسایطو او ماشینرۍ شتون

په یو کال کې ۳۳۰۰۰۰ ټنو د سمنټو فابریکو د تولیداتو ظرفیت

د مخکې جوړو د ۹۵۰۰ متره مربع ودانیزو توکو جوړول

په یو کال کې د ۵۰۰ ټنو فلزي عناصرو تولید

د ۳۱۴،۸۸۵ په ارزښت د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ درلودل

## په ټولنه کې د باور او هیلې رامنځ ته کول

د ملي پراختیا شرکت په تأسیس سره د سېستم جوړونې، بشري سرچینو د ظرفیت او د مسلکي کدرونو ګمارنه، د یوولسو تصدیو د ستونزو پیداکول او د هغو اصلاحات په داسې حال کې پیل شول، چې د بنایي ودانیز ریاست ته له یو اړخه د سترو او ډېرو پروژو د تطبیق چارې سپارل شوې وې او له بل اړخه په نړۍ کې د کرونا وېروس په یوې سترې ټولنیزې ستونزې اوښتې وو، امنیتي ستونزې او په سلګونو نورو ستونزو د اوس په شان یوې ظرفیت لرونکې اداري د جوړولو آرمان ناممکن کړی وو، خو د ملي پراختیا شرکت د رهبرۍ او کارکوونکو په تدبیر او استقامت سره دغه نوې تأسیس شوې ارګان وشو کولای دا اوږد مهاله واټن او پروسه له یو کال څخه په کمه موده کې طی؛ دولت، ملت، کورنیو او بهرنیو ارګانونو ته د یوه ظرفیت لرونکې او باورې ارګان په حیث ثابت شو.

ملي پراختیا شرکت د چارو له پیل سره د کرونا ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې سترې پروژې دغه شرکت ته وسپارل شوې، چې دا پروژې په خورا تدبیر سره تطبیق شوې، لکه د کرونا ناروغۍ ۱۰۰ بستریز روغتونونو جوړول، د کرونا ناروغۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره د طبي چېرکټونو تولید او جوړول، د هندوستان هېواد له لوري د مرسته شویو غنمو لېږد او په کرونایي حالت کې خلکو ته د کار زمینې برابرولو لپاره د کابل ښار د سطحي اوبو مدیریت پروژې په لار اچول د دې لامل شو، تر څو د دولتي ادارو او ملاتړ کوونکو د باور وړ وګرځي.

ملي پراختیا شرکت دا پروژې په کم وخت، ښه کیفیت او ټیټ قیمت سرته ورسولې، چې په اتلس ورځو کې د کرونا ناروغۍ روغتون جوړولو سره یې په سیمه کې په ودانیزه برخه کې یو ریکارډ جوړ کړ. نو په همدې اساس ټول هغه ارګانونه، چې د ټولنې، خلکو او هېواد په جوړونه کې بوخت دي په ملي پراختیا شرکت باوري او دا شرکت د افغانستان خلکو ته په یوې هیلې او امېد بدل شو.

## مالي معلومات

د ملي پراختیا شرکت تر کار لاندې ۱۱۲۷ پروژې د ۱۲۴ میلیارده افغانیو په ارزښت دي، چې د تطبیق په برخه کې ۳۵.۶۶ سلنه کاري پرمختګ یې ۴۴ میلیارده افغانی کېږي.
د ملي پراختیا شرکت ۲۶.۸ میلیارده ناخالص عواید د پروژو د تطبیق له اړخه وو او ۱۷.۵ میلیارده غوښتنې( د پروژو په مالکانو پورونه) دي.
له ټولټال ۲۶ میلیارده افغانیو څخه ۸.۴ میلیارده پورونه(د نورو ادارو او قرار دادي شرکتونو) په ملي پراختیا شرکت دي.
د حسابونو له تصفیې وروسته ملي پراختیا شرکت د ودانیزو پروژو په برخه کې ۹.۹ میلیارده ګټه کړې، چې د دې شرکت ټوله خالصه ګټه ۱۱ میلیارده شاوخوا ده.




## لاسته راوړني

ملي پراختیا شرکت د بندونو او کانالونو، ودانیزو، کانونو، کرنې او تولید په سکتورونو کې فعالیت کوي او په دې برخو کې ۱۱۲۷ کوچنی او سترې پروژې تر کار لاندې لري، چې له ډلې یې د قوش تېپې کرنیز کانال، د کمال خان بند کانالونه، د توري او مچلغو د اوبو بندونه، د تاریخي آبداتو بیارغونه، د سلکونو اداري، روغتیایي او تعلیمي ودانیو جوړول، استوګنیز ښارګوټي، د سمنټو تولید او وراندې کول(عرضه)، مخکې جوړو ودانیزو توکو فابریکه، او فلزي عناصر؛ یې یادولی شو.

ملي پراختیا شرکت د کرنیز کمپلکسونو د جوړولو په برخه کې اغېزمنې او ګټورې طرحې تر لاس لاندې نیولې دي، چې په دې برخه کې د شمال کرنیز- صنعتي کمپلکس او په ولایتونو، هوایي ډګرونو او ګمرکونو کې د سرو خونو پروژې تطبیق او یا تر لاس لاندې نیولې دي.

د کانونو سکتور په اوسني وخت کې د هېواد د اقتصادي سرچینې په توګه؛ د ملي پراختیا شرکت د فعالیت یو بل ډګر دی، چې د شمال ډبرو سکرو ریاست غوره مدیریت د دې شرکت له لوري شمېرل کېدلای شي. د یادولو وړ دی، د افغانستان اسلامي امارت په دې وروستیو کې د بلخاب ډبرو سکارو د کانونو استخراج چارې د ملي پراختیا شرکت ته وسپارلې او ملي پراختیا شرکت د بلخاب ډبرو سکارو د استخراج او بازار ته د وراندې کولو(عرضې) لپاره ټولیزې(جامع) برنامې تر لاس لاندې نیولې دي.



## د بندونو او کانالونو سکتور

## د قوش تېپې کانال ملي پروژه:

د قوش تېپې کرنیز کانال پروژه د هېواد یو له حیاتي او زېربنایي پروژو څخه ده، چې د بلخ ولایت له کلدار ولسوالۍ څخه پیل او د فاریاب ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې پایته رسېږي. د قوش تېپې کانال له یو اړخه د کرنیزو پیداوارو د ډېرېدلو سبب ګرځي او له بل اړخه یې اوس مهال ۵۵۰۰ تنو ماهرو او غیر ماهرو کسانو ته د کار زمینه هم برابره کړې ده.

د قوش تېپې کانال په درې فازونو کې په پام کې نیول شوی دی، چې لومړی فاز له سربند پیل د ۱۰۸ کیلومتره په اوږدوالي د بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې پایته رسېږي، دوهم فاز یې د ۱۷۷ کیلومتره په اوږدوالي له دولت آباد ولسوالۍ پیل او د فاریاب ولایت په اندخوی ولسولۍ کې پایته رسېږي او درېیم فاز یې د فرعي کانالونو جوړولو او د ځمکو وېش ته ځانګړی شوی دی.

دا کانال د هېواد یوه له سترو او ملي پروژو څخه ده، چې ۲۸۵ کیلومتره اوږدوالی، ۱۵۲ متره پلنوالی او په یوه ثانیه کې د ۶۵۰ متره مکعبه اوبو د لېږد وړتیا لري او په تطبیق سره به یې ۵۸۰۰۰۰ زره هکتاره وچو او سوځوونکو دښتو د خړوبولو زمینه برابره شي.

| شمېره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | په بېلا بېلو ولایتونو کې د ۴۲ بندونو(الف، ب) ډیزاین او جوړول | صنعتي / کرنیز | بېلا بېل ولایتونه |
| ۲ | د کمال خان بند د کانالونو جوړولو پروژې قرارداد | صنعتي / کرنیز | نیمروز |
| ۳ | د مچلغو بند جوړولو پروژه | صنعتي / کرنیز | پکتیا |
| ۴ | په فراه ولایت کې د بند او کانالونو د کیندلو پروژه | صنعتي / کرنیز | فراه |
| ۵ | په هلمند ولایت کې د سفلی(بکت) کانال ودانی جوړول | صنعتي / کرنیز | هلمند |
| ۶ | د تخار ولایت د نمک آب کانال مسیر د بدلون پروژه | صنعتي / کرنیز | تخار |
| ۷ | د هلمند ولایت د نهر سراج پروژې اول لاټ | صنعتي / کرنیز | هلمند |
| ۸ | د هلمند ولایت د نهر سراج پروژې دوهم لاټ | صنعتي / کرنیز | هلمند |
| ۹ | د پکتیکا ولایت د پلتونې بند جوړول | صنعتي / کرنیز | پکتیکا |
| ۱۰ | د قوش تېپې کانال د کیندنې لومړی فاز د ۱۰۸ کیلومتره په اوږدوالي سره | صنعتي / کرنیز | بلخ |

# ودانیز سکتور

| شمېره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | د مالیې وزارت د اداري کمپلکس جوړول | اداري/ټولنيز | کابل |
| ۲ | د هرات ولایت د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمپلکس | اداري/ټولنيز | هرات |
| ۳ | د افغانستان د صکوکو مطبعه | اداري/ټولنيز | کابل |
| ۴ | د لوی څارنوالی د اوسني کمپلکس د درې ضمیمه ودانیو جوړول | اداري/ټولنيز | کابل |
| ۵ | په لوګر، نورستان، دایکندي، تخار او جوزجان ولایتونو کې دارالایتامونه | اداري/ټولنيز | بېلا بېل ولايتونه |
| ۶ | د ارګ د ساتنې د لوېې قوماندانی د ودانی جوړول | اداري/ټولنيز | کابل |
| ۷ | د غزني ولایت د امنیه قوماندانی د کمپلکس جوړول | اداري/ټولنيز | غزني |
| ۸ | په فاریاب ولایت کې د غلام محمد میمنه ګی د فرهنګي مرکز جوړول | اداري/ټولنيز | فاریاب |
| ۹ | په پکتیا ولایت کې د مېلمستون پروژې دوه پوړیزه ودانې، اوبو رسونې او کانالېزاسیون جوړول | اداري/ټولنيز | پکتیا |
| ۱۰ | په کابل ولایت کې د مزاري د مصلا د لومړي فاز قرارداد | اداري/ټولنيز | کابل |
| ۱۱ | په(۱۰) ولایتونو کې د ۱۷ بابه لیلیو لپاره د ودانیو جوړول | تعلیمي/تحصیلي | بېلا بېل ولايتونه |
| ۱۲ | په دایکندي ولایت کې د یو باب لیلیې جوړول | تعلیمي/تحصیلي | داکندي |
| ۱۳ | د ۷۰۰ ښوونځیو د کمپیوټر لبونو جوړول | تعلیمي/تحصیلي | ټول ولايتونه |
| ۱۴ | په کندهار او فراه ولایتونو کې د دوه بابه لیلیو جوړول | تعلیمي/تحصیلي | کندهار او فراه |
| ۱۵ | د پولي تخنیک پوهنتون د اوبو سرچینو او چاپېریال ساتنې پوهنځې د تدریسي ودانی جوړولو قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | کابل |
| ۱۶ | د پولي تخنیک پوهنتون د کیمیاوي ټکنالوژی پوهنځې د تدریسي ودانی جوړولو قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | کابل |
| ۱۷ | په میدان وردګو ولایت کې د یو باب لیلیې د جوړولو قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | میدان وردک |
| ۱۸ | په زابل ولایت کې د یو باب لیلیې د جوړولو قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | زابل |
| ۱۹ | په کابل ولایت کې د بدني روزنې ریاست او تدریسي ودانی جوړولو د پروژې قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | کابل |
| ۲۰ | په هلمند ولایت کې د یو باب لیلیې او ښوونیز مرکز د ودانی جوړولو د پروژې قرارداد | تعلیمي/تحصیلي | هلمند |
| ۲۱ | په ۳۴ ولایتونو کې د ۳۷۷ بابه جوماتونو د جوړولو پروژې قرارداد | دیني/مذهبي | ټول ولايتونه |
| ۲۲ | په ۳۴ ولایتونو کې د ۳۶ بابه جوماتونو او د فاتحه خوانی صالونونو جوړولو د پروژې قرارداد | دیني/مذهبي | ټول ولايتونه |
| ۲۳ | د ۱۲ ناحیې د شاهنان کلا د سرک جوړول | بنسټیزې | کابل |
| ۲۴ | د کابل سیند د دوهم لاټ د استنادي دېوالونو جوړولو د پروژې قرارداد | بنسټیزې | کابل |

| شمیره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
|---|---|---|---|
| ۲۵ | د کابل سیند د پاکولو او استحکاماتو پروژه | بنسټیزې | کابل |
| ۲۶ | د کابل نړیوال هوایي ډګر د دېوالونو د جوړولو پروژه | بنسټیزې | کابل |
| ۲۷ | د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالی د بورک له کلي تر سرخاب پورې د ۸.۹۷ کیلومتره سړک پروژه | بنسټیزې | لوګر |
| ۲۸ | د کابل ګردېز لویې لارې څخه د لوګر ولایت محمد آغې ولسوالی تر زرغون ښار(د علي خېلو د ملکانو کلي جومات) پورې د ۹.۵ کیلومتره سړک جوړونې پروژه | بنسټیزې | لوګر |
| ۲۹ | د لوګر ولایت د خوشي ولسوالی د بورګ تر کندوا کلي پورې د ۱۴.۴۱ کیلومتره سړک جوړونې پروژه | بنسټیزې | لوګر |
| ۳۰ | د حیرتانو ښارګوټي د دوه لارې د سړک د ویالو، base course، sub base پروژه | بنسټیزې | بلخ |
| ۳۱ | د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالی له کندهاري پل څخه تر سرخاب پورې د ۱۷ کیلومتره سړک جوړونې پروژه | بنسټیزې | لوګر |
| ۳۲ | د خیرخانې د دوهم مارکېټ د سړکونو سنګفرش | بنسټیزې | کابل |
| ۳۳ | د ۱۷ او ۱۱ ناحیو ترمنځ څلور کیلومتره سړک جوړول(دوهمه برخه) | بنسټیزې | کابل |
| ۳۴ | د کندهار ولایت له شاه ولی کوټ څخه تر ترینکوټ پورې ۲۴ کیلومتره سړک | بنسټیزې | کندهار |
| ۳۵ | په ۲۷ ولایتونو د ۲۷ سپورټي جمنازیومونو او د کنفرانسونو د تالارونو د جوړولو پروژه | روغتیایي/سپورټي | په بېلا بېلو ولایتونو کې |
| ۳۶ | د ننګرهار ولایت د ۶۰۰ بستریز حوزوي روغتون جوړول | روغتیایي/سپورټي | ننګرهار |
| ۳۷ | د کرونا ناروغۍ د چېرکټونو برابرول او د لېږد پروژې قرار داد | روغتیایي/سپورټي | پروان |
| ۳۸ | په ۳۴ ولایتونو کې د روغتونونو لپاره د ۱۰۲ انتظار خونو جوړول | روغتیایي/سپورټي | په ټولو ولایتونو کې |
| ۳۹ | د کرونا د ۱۰۰ بستریز روغتون د جوړولو د پروژې قرارداد | روغتیایي/سپورټي | میدان وردګ |
| ۴۰ | په کابل ښار کې د ۲۱ بابه روغتونونو د بیارغونې(ترمیم) پروژه | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۴۱ | د جنت ګل خان د نسایي ولادي روغتون جوړول | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۴۲ | د غزني ولایت د ۱۰۰ بستریز روغتون جوړولو پروژه | روغتیایي/سپورټي | غزنی |
| ۴۳ | د کنړ ولایت د ۲۰۰ بستریز روغتون د جوړولو پروژه | روغتیایي/سپورټي | کنړ |
| ۴۴ | د پلچرخي زندان د ۵۰ بستریز روغتون پروژه | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۴۵ | په ۱۰ ولایتونو کې د کرونا د ۱۰ بابه ۱۰۰ او ۵۰ بستریز روغتونونو جوړول | روغتیایي/سپورټي | په بېلا بېلو ولایتونو کې |
| ۴۶ | په میدان وردګو ولایت کې د یو باب ۲۰ بستریز روغتون جوړولو پروژې قرارداد | روغتیایي/سپورټي | میدان وردګ |
| ۴۷ | د زرقي محلولاتو د ودانۍ جوړول | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۴۸ | په بهر کې د مېشتو افغان ډاکترانو لپاره په وزیر اکبرخان کې د مېلمستون جوړولو پروژه | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۴۹ | د کرونا د ۵ بابه ۵۰ بستریز روغتونونو جوړول | روغتیایي/سپورټي | کابل |
| ۵۰ | د پلچرخي زندان دننه د ودانۍ جوړول | متفرقه | کابل |
| ۵۱ | د افغان ملي مانۍ پروژې د لومړي لاټ قرارداد | متفرقه | کابل |

## تاریخي آبدات

| شمېره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کندهار د عیدګاه بیارغونه | تاریخي/کلتوري | کندهار |
| ۲ | د امام زاده یحی د مقبرې بیارغونه | تاریخي/کلتوري | سرپل |
| ۳ | د مزار شریف د روضې مبارکې بیارغونه | تاریخي/کلتوري | بلخ |
| ۴ | د پروان د جبل السراج ماڼۍ د دوهم لاټ پروژه | تاریخي/کلتوري | پروان |
| ۵ | د تاج بېک ماڼۍ پروژې د اوبو رسولو، خروبې، برېښنا...جوړول | تاریخي/کلتوري | کابل |
| ۶ | د دارالامان ماڼۍ د ودانۍ او برېښنا پاتې برخو د جوړونې قرارداد | تاریخي/کلتوري | کابل |
| ۷ | د تاج بېک ماڼۍ د اساسي بیا رغونې پروژه | تاریخي/کلتوري | کابل |
| ۸ | د شهید سردار محمد داود خان د مقبرې جوړول | تاریخي/کلتوري | کابل |
| ۹ | د پغمان د بالا باغ د ماڼیو د دوهم لاټ پروژه | تاریخي/کلتوري | کابل |
| ۱۰ | د پروان ولایت د جبل السراج ماڼۍ د بیا رغونې پروژه | تاریخي/کلتوري | پروان |
| ۱۱ | د پغمان د بالا باغ ماڼیو د معماری، ترکاڼي، اوبو رسولو، فاضله موادو، مېخانیک او برېښنا برخو بیارغونه | تاریخي/کلتوري | کابل |

## تر کار لاندې استوګنیز ښارګوټي

| شماره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | د افغان ملي ماڼۍ د لومړي لاټ پروژه | استوګنیز | کابل |
| ۲ | د سنايي غزنوي ښارګوټي د استوګنیزو ودانیو لومړی فاز | استوګنیز | کابل |
| ۳ | د سنايي غزنوي ښارګوټي د کانونو او پټرولیم وزارت د اداري ودانۍ لومړی فاز | استوګنیز | کابل |
| ۴ | د سنايي غزنوي ښارګوټي دوهم فاز | استوګنیز | کابل |
| ۵ | لاله ښارګوټی | استوګنیز | کابل |
| ۶ | د بګرامیو ښارګوټي لومړی فاز | استوګنیز | کابل |
| ۷ | د بګرامیو ښارګوټي دوهم فاز | استوګنیز | کابل |

## د تولیداتو سکتور

د غوري سمنټو فابریکې، جبل السراج سمنټو فابریکه، د فلزي عناصرو د تولید ریاست او د مخکې جوړو ودانیزو توکو فابریکه د تولیداتو په برخه کې د ملي پراختیا شرکت له وړتیاوو(ظرفیتونو) څخه دي.

ملي پراختیا شرکت په خپل غوره مدیریت د سمنټو فابریکو د تولید او د ماشینونو ترمیم سره د فابریکو وړتیا(ظرفیت) لوړ کړ، چې ور سره یې عواید په کال کې له ۹۰۳۸۹ ټنو څخه ۱۳۴۹۳۳ ته لوړ شول.

د دې شرکت د فلزي عناصرو ریاست په کال کې د ۵۰۰ ټنو فلزي عناصرو د تولید وړتیا لري او په دې برخه کې کوچني او ستر فرمایشونه تطبیق کوي.

د دې شرکت د مخکې جوړو ودانیزو توکو د تولید فابریکه په نوې ټکنالوژۍ او تجربه لرونکو کارکوونکو سمباله ده، چې په کال کې د ۹۵ زره متره مربع مخکې جوړو ودانیزو توکو د تولید وړتیا لري.

همدارنګه د ملي پراختیا شرکت د کور جوړولو ریاست د آکسیجن تولید فابریکه، چې کلونه یې چارې ولاړې وې، بیرته فعاله او د کرونا ناروغۍ پر مهال، چې په هېواد کې آکسیجن ته اړینه اړتیا وه په ورځ کې ۲۰۰ بالونه آکسیجن تولید او روغتونونو په ځانګړي ډول افغان جاپان روغتون ته وېشلو.





# د کانونو سکتور

په تېرو وختونو کې د هېواد پرمختیايي او زېربنايي پروژې او برنامې له یوه اړخه د مرسته کوونکو هېوادونو پالېسیو او سیاستونو او له بل اړخه بیروکراسي او سیاسي کشمکشونه د دې سبب شوي وو، چې په زېربنايي برنامو باندې اساسي کار ونه شي.
ملي پراختیا شرکت د ځان بسیاینې او له بې وزلۍ څخه پاک افغانستان په شعار سره په دې لټه کې دی، تر څو د کانونو د استخراج په برخه کې اغېزمنه پانګونه د هېواد د ودې او اقتصادي پرمختګ لپاره په خپله کاري اجنډا کې ځای کړي.
دا شرکت؛ د کانونو استخراج لپاره یو اوږد مهاله او ستراتېژیک لیدلوری لري او د ډبرو سکارو څخه ترلاسه کېدونکي عوایدو سره به موږ وتوانېږو ترڅو د هېواد سترې پرمختیايي او زېربنايي پروژې تطبیق کړو.

## د بلخاب ډبرو سکارو کانونه

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې د پرېکړې پر بنسټ د سرپل ولایت د بلخاب ولسوالۍ د ډبرو سکارو کاني حوزه د یو تړون له مخې د ملي پراختیا شرکت ته ولېږدول شوه. دغه شرکت په داسې حال کې، چې د بلخاب ولسوالۍ د ډبرو سکارو له کاني سرچینو څخه د جیولوجیکي امکان سنجۍ، تخنیکي او معیاري ګټې اخیستنې چارو تر څنګ، عملیاتي او تخنیکي برنامې هم پیل کړې دي.





# د کرنې سکتور

## د شمال کرنیز- صنعتي کمپلکس

ملي پراختیا شرکت په پام کې لري، چې د قوش تېپې کانال د لومړي فاز له بشپړېدلو څخه وروسته د دې کانال شاوخوا ته کرنه په نوي اومډرنه بڼه پیل کړي.
دغه شرکت په ۱۵۰۰۰۰ هکټاره ځمکه کې د شمال کرنیز- صنعتي کمپلکس طرح تر لاس لاندې نیولې ده، چې په ۱۰۰۰۰۰هکټاره ځمکه کې کرنیز کمپلکس او په ۵۰۰۰۰ هکټاره ځمکه کې صنعتي پارکونه په پام کې نیول شوي دي.

همدارنګه د چاپېریال د ککړتیا د مخنیوي او د غوري سمنټو فابریکو شاوخوا خاورینو غونډیو او حاصلخېزه ځمکو څخه د اغېزمنې ګټې اخیستنې لپاره ملي پراختیا شرکت یو بڼ د ترقي بڼ په نوم جوړ کړی دی.
دا بڼ چې په ۴۰۰ جریبه ځمکه کې جوړ او د اوبو لګولو د څاڅکو په سېستم باندې مجهز دی او په کې ۲۰ زره مېوه لرونکي ونې لکه، انګور، زردالو، ناک، بادام او شفتالو کښېنول شوې دي، چې حاصل ته هم رسېدلي دي.

| شمېره | د پروژې نوم | د پروژې ډول | موقعیت |
|---|---|---|---|
| ۱ | کرنیز کمپلکس | صنعتي/کرنیز | بلخ |
| ۲ | په ۱۲ ولایتونو کې د سړوخونو د کمپلکس جوړولو پروژه | صنعتي/کرنیز | بېلا بېل ولایتونه |
| ۳ | د کابل، بلخ، کندهار او نیمروز ولایتونو د هوایي ډګرونو د ګمرکونو د سړوخونو جوړول | صنعتي/کرنیز | بېلا بېل ولایتونه |
| ۴ | د ابونصر فراهي ګمرک اداري ودانۍ جوړول | صنعتي/کرنیز | اندخوی |
| ۵ | د اسیکودا ډېټا سنټر ودانۍ | صنعتي/کرنیز | |
| ۶ | د کابل ښار د سطحي اوبو د مدیریت پروژه | متفرقه | کابل |



## د املاکو او جایدادونو برخه

- د ملي پراختیا شرکت د املاکو ریاست د دې شرکت ۱۶۵۶۰ زره جریبه ځمکه تثبیت، ثبت او ځای یې معلوم کړی دی.
- ۷۰۷۹ جریبه ځمکه او ۱۱۱ دکانونه د غاصبینو له منګولو خلاص او د شرکت ملکیت یې ګرځولي دي.
- د ملکیتونو ۲۳۳ د اجارې قراردادونه له بېلا بېلو حقیقي او حکمي ادارو او اشخاصو سره کړي دي.
- د شمال د کرنیز کمپلکس د شاوخوا ۸۵۰۹۳۵ جریبه ځمکې د لېږد د مراحلو طی کول.
- د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د ملي پراختیا شرکت له ملکیتونو څخه د ۲۵۳۰۹۳۱۰ افغانۍ او ۸۳۹۹۸۰ ډالرو د عوایدو راټولول.


## پرمختیایي برنامې

ملي پراختیا شرکت په خپل کاري چوکاټ کې لاندې پرمختیایي برنامې په منظم ډول ترلاس لاندې نیولې دي:

- په غوري او جبل السراج فابریکو کې د سمنټو د تولید ظرفیت لوړول.
- د بلخاب ډبرو سکارو د کانونو د دوراني طرحې تطبیق.
- په جنوب لوېدیځ کې د کرنې د دوراني طرحې تطبیق.
- د تولید د دوراني طرحې تطبیق.
- د شمال د کرنیز- صنعتي کمپلکس د طرحې تطبیق.



# تشکیلاتي جوړښت




| شمېر | تعلیمي او تحصیلي سویه |
|---|---|
| ۱ | دکتور |
| ۴۲ | ماستر |
| ۲۱۴ | لیسانس |
| ۳۶ | فوق بکلوریا |
| ۲۴ | بکلوریا |

| تعداد | تجربه(کال) |
|---|---|
| ۴۲ | له ۳۰ کلونو څخه ډېر |
| ۵۱ | ۲۱-۳۰ کال |
| ۵ | ۱۱-۲۰ کال |
| ۲۸ | ۵-۱۰ کال |
| ۱۷۸ | له ۵ کلونو څخه لږ |

| تعداد | عمر |
|---|---|
| ۲۷ | ۶۰-۶۴ |
| ۳۶ | ۵۰-۶۰ |
| ۳۵ | ۴۰-۵۰ |
| ۱۱۰ | ۳۰-۴۰ |
| ۱۰۸ | ۲۰-۳۰ |

## پیرودونکي

ملي پراختیا شرکت ملي برنامې او ټولګټې پروژې، لکه د ټولګټو ودانیو جوړول، بندونو، کانالونو، کرنې، د کانونو استخراج او تولیداتو په برخو کې له اړوندو دولتي ادارو سره په ګډه د هېواد په آبادۍ او بیا رغونه کې ښکېل دی.

## د اړیکو وسایل

د اړیکو شمېرې:
۰۷۸۵۲۵۵۵۶۱ | ۰۷۰۴۷۹۳۸۲۸
ایمېل آدرس:
info@ndc.gov.af
وېب سایټ:
www.ndc.gov.af
فېسبوک:
https://www.facebook.com/NationalDevelopCor
ټویټر:
https://twitter.com/NationalDevel10
انسټاګرام:
/https://instagram.com/ndc_afg
یوټیوب چینل:
https://www.youtube.com/channel/UC3W7lP0YfOkkJmVGubOqu8A


# د ملي پراختيا شرکت
# يو شمېر پروژو ته کتنه!














د ملي پراختیا شرکت
www.ndc.gov.af